<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>

## آیا په غزه کې د ماتم لپاره هم څوک نه دي پاتې؟

**(ژباړه)**

وژنې، ورانۍ او محاصرې د غزې ورځنۍ حقیقت ګرځېدلی. خو نوې څه دا دي چې دغه حالت او خبرونه د رسنیو له پامه لویدلي او د امت له سترګو پټ شوي دي. دا د شام حالت ته ورته دی، هلته هم یهودي پوځ پر پاتې وسلو او مهماتو بې رحمه بریدونه کوي. څکه وېرېږي چې د الله سبحانه وتعالی دین ته ژمن کسان د دغې سیمې کنټرول ترلاسه نه کړي؛ هغه خلک چې د بیت المقدس د ازادۍ هیله لري او د الله سبحانه وتعالی په لار کې د غزې د خلکو ملاتړ کوي.

په دغې پټه شوې صحنه کې، د فلسطین حاکمه اداره او امنیتي ځواکونه یې د یهودو لپاره د اطاعت کوونکو وسیلو په توګه کار کوي. دوی مجاهدین څاري، سناېپر ویشتونکي ځای پر ځای کوي او په پټه یې وژني؛ لکه څرنګه چې بشار او د هغه ملیشو په شام کې وکړل.

د غزې خلک او د ټول فلسطین مسلمانان د شام له ظالم څخه د خلاصون په خوشالۍ کې برخه اخلي، خو یهودي پوځ دوی ته په دغې خوشالۍ کې د برخې اخیستلو هیڅ فرصت نه ورکوي. د دوی محاصره دومره تنګه شوې چې له زغمه وتلې ده؛ که په خپلو کورونو کې پاتې شي، بمبارۍ پرې کېږي؛ که بهر ووځي، په نښه کېږي او که روغتونونو ته پناه یوسي هم وژل کېږي. جنایتکار ځواکونه له ټولو لوریو د غزې د محاصرې د کلکولو لپاره راوتلي دي، په داسې حال کې چې خاین حکام یا چوپ پاتې کېږي او خپل ولس هم چوپوي، یا تر ټولو بده دا چې د محاصرې د دوام لپاره وسلې او تجهیزات برابروي. داسې ښکاري چې غزه یوازې پرېښودل شوې ده، نه مرسته ورسره کېږي، نه څوک د ژغورنې لپاره ورمخې ته کېږي او نه څوک شته چې پر مظلومیت یې ویر او ماتم وکړي.

په شام کې خوشالي نیمګړې ده، څکه چې له دې خوشالۍ سره غم او ویر مل دی؛ هغه ویر چې په سوریه او جولان، په غزه او ټول فلسطین کې دوام لري. دا یوه داسې خوشالي ده چې د یوازې پرېښودل شوې او ښکار شوې، وژل شوې او بېځایه شوې سپېڅلې خاورې د کړاوونو تر سیوري لاندې راغله. په شام کې څنګه په داسې حالت کې خوشالي کېدی شي چې تاج یې دښمن نیولی او غزه په وینو کې لت پت ده؟

**اې د شام خلکو او د دې خاورې اتلانو او مجاهدینو:** تاسو د خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم د سپېڅلي سفر (اسراء او معراج) ځای ته ډېر نېږدې یئ. د فلسطین خلک ستاسو لوري ته په ستره هیله ګوري، څکه هغوی ستاسو کورنۍ او وروڼه دي. هغوی په زخمي ځان پر تاسو غږ کوي چې شمالي جبهه خلاصه کړئ. د مصر سرتیري دې لومړی لکه تاسو چې وکړل، د خپل ظالم حاکم پر وړاندې راپورته شي بیا دې سویلي جبهه خلاصه کړي. د اردن سرتیري دې د خپل حاکم، د بریتانیې د غلام له راپرځولو وروسته ختیځه جبهه پرانیزي. له دې سره به امت یهودي حاکمیت سویل لوري ته د سمندر خواته کلک محاصره کړي چې د تېښتې هیڅ لار به نه لري او د دغه وحشي حاکمیت پای به د الله په فضل او اراده ستاسو په لاسونو ولیکل شي.

پر شام او مصر غږ کوو چې خپل تاریخي رول ته، چې د ازادۍ لپاره د چمتووالي مرکز و، بیا راوګرځي. لکه په حطین او عین جالوت تاریخي جګړو کې چې وو. په هغه ورځ به د غزې خلک، ټول فلسطین، شام، مصر او ټول امت خوشاله شي. هره هغه بریا چې له دې کمه وي، نیمګړې ده؛ ځکه چې خاینانو او دښمنانو ته وخت ورکول او د هغوی پلانونه به لنډمهاله خوښۍ په غم او درد بدلې کړي او په فلسطین او غزه کې به د ماتم کولو لپاره هم څوک پرې نه ږدي.

« **يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تَنْصُرُوا اللهَ يَنْصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ** » [محمد: ٧]

**ژباړه:** *«ای مومنانو! که د الله (د دین) مرسته وکړئ؛ نو (هغه سبحانه و تعالی به) مرسته درسره وکړي او قدمونه به مو ټینګ کړي.»*

**د فلسطین په سپېڅلې خاوره کې د حزب التحریر مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۶ هـ.ق کال، د جمادي الثاني ۱۲مه**

**۲۰۲۴م کال، د ډسمبر۱۴مه**

**د صدور ګڼه: ۱۴/ ۱۴۴۶**

**ژباړن: اسرار تکل**